مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۸/۰۲

# غـزل

د اور په رقص نخېدونکي نجلۍ
ته به له خپله ځانه اور واخلې

زه به اداء د بل مئين وکړمه
ته به زما له میني زور واخلې

مخ کې دې نښې د قيامت پوره
ژر ده زما له زړه نه شور واخلې

درده يو دم مو کور ته مه راځه
ته به زموږ له لمن تور واخلې

هزار ليکونه او هر ليک د هغې
له هر يو توري به ټکور واخلې

خدای به دې وښيي يا نه ودانه
که خرڅ غزل ببرته په پور واخلې[1]

۲۰۲۳/۷/۳۰ کابل

۱: د مقطع وروستۍ مسرۍ کې د اردو ژبې شاهکار ډرامې (پريزاد) یوې صحنې ته اشاره شوې. ډرامه کې اتل چې شاعر وي د خپلې خور د کور ژغورلو لپاره هيڅ نلري، هماغه وي چې يو شتمن کس باندې خپله شاعري خرڅه کړي او بيا چې ښه مالداره شي، نو ببرته يي په څو چنده لوړ قيمت ترې واخلي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ